ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا ۲۰۲۶/۰۴/۴۰

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (ځلوېښتمه برخه)

### ډاکټر سید خلیل الله «مسعود» هاشمیان

د سید محمد سرور کونړي زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ ,مور ئې محمدزۍ وه. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې خپل لیسانس د دري ژبې په ادبیاتو کې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او خپله ماستري ئې په ۱۹۷۴ز کال کې په ژب پوهنې کې او دکتورا ئې د اندیانا له دولتي پوهنتون څخه په ښوونې او روزنې کې تر لاسه کړه. په ۱۹۴۷ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې مقرر سو. په ۱۹۵۱ز کال کې په لندن کې د افغان سفارت دوهم سکرتر. په ۱۹۵۳ز کال کې ئې له یوې برتانوۍ تبعې سره واده وکړ او په ۱۹۵۳ز کال کې ئې له خپلې دندې ئې استعفی وکړه. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې د آریانا افغان هوایي شرکت ترافیک منیجر. په ۱۹۶۴ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مدرس. په ۱۹۷۰ز کال کې د کابل پوهنتون د هغهٔ کمیسیون منتخب غړی او سکرتر چې ددولت د هغو پولیسو پر وړاندې د دعوی اقامه وکړې چې د کابل پر پوهنتون ئې برید کړی وو. په ۱۹۷۷ز کال کې د کابل پوهنتون د ژب پوهنې پوهاند. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د ژب پوهنې د انګلیسي دیپارتمنت منتظم. ؟له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۰ز کلونو پورې د یوې مخفي ډلې پټ غړی وو او شب نامې به ئې انګلیسي ته ژباړلې چې د دریمې نړۍ سفارتونو باندې ویشل کېدلې. په ۱۹۸۰ز کال کې ئې له پوهنتون څخه استعفی وکړه او په ۱۹۸۱ز کال کې پاکستان ته لاړ او په ۱۹۸۲ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته ورسېد. د باندنیو شرکتونو او د پلان د وزارت لپاره ئې د سکرتر- ژباړونکي په توګه کار کړی دئ. په افغانستان کې دننه او دباندې د ګڼ شمېر آثارو لیکوال.

### عبدالرحیم هاتف

د توخي له قبیلې څخه دی چې په ۱۹۲۶ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. د احمد شاه بابا په لیسې، د حبیبیې په لیسې او د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې ئې تحصیلات کړي دي. د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه پر مهال د کندهار د ښاروالۍ مشر وو. د داؤود د واکمنۍ په پرمهال ئې په بېلابېلو حکومتي مقامونو کې کار کړی دئ. له کندهار څخه د ولسي جرګې غړی. په ۱۹۸۵ز کال کې د لویې جرګې رئیس. په ۱۹۸۵ز کال کې د پلار وطنې – ژ د ملي جبهې د مرکزي شورۍ رئیس. د ۱۹۸۵ز کال په دسمبر کې د انقلابي شورۍ غړی. د ګوند غړی نهٔ دئ. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

### محمد طاهر هاتف

د محمد ابراهيم داعي زوی په ۱۹۱۴ز کال کې د کابل په شور بازار کې زېږېدلی دئ. ږمحمد ابراهيم داعي د امير عبدالرحمن په دربار کې يو عالم وو او د ـ عاجز افغان ـ [1] له اعقابو څخه دیږ. خصوصي تحصيلات لري او هم ئـې په دارالمعلمينو او د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کې تحصيلات تر سره کړي دي. په ۱۹۳۶ز کال کې د حبيبيې په ليسي کې ښوونکی وو. په ۱۹۶۱ز کال کې د فراه والي وو. د معارف او د کورنيو چارو په وزارتونو کې رسمي مأمور. شاعر.

### سيد غلام حضرت

د سيد غلام يحيی زوی. د آريانا افغان هوايي شرکت حساب دار. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۲ز کال پورې ئـې په امريکن پوهنتون کې محاسبه او اداره لوستې ده. د جبهه ملي پدر وطن د ولايتي شورى رئـيس.

## گلب الدين حکمتيار

د غلزيو د خروټو له قبـيـلې څخه دئ. د کابل پوهنتون د انجنيري د پوهنځي دوه سمسترونه ئـې لوستي دي. له عبدالرحيم نيازي، انجنير حبيب الرحمن، مولوي حبيب الرحمن، ډاکټر عمر، انجنير سيف الدين نصرت يار او قاضي محمد امين سره له اسلامي غورځنگ سره يو ځای سوی دئ. د ۱۹۷۰ ز کال د محصلينو د اتحاديې په کانگرس کې ئـې گډون وکړ او له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د محصلينو د اتحاديې په اجرائيوي شورى کې فعال وو. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل د دهمزنگ په زندان کې زنداني سو. د داؤود د ۱۳۵۲ل کال د چنگاښ د ۲۶/ د ۱۹۷۳ز کال د جولای د مياشتې د ۱۷ له کودتا وروسته حکمتيار د ۱۹۷۴ز کال د مې په مياشت کې د يوې کودتا د رهبرئ په تور تورن سو نو ځکه اړ سو چې مخفي سي. له ۱۹۷۵ز کال راهيسې د حزب اسلامي د مجاهدينو مشر. راډيو کابل په دې تورن کړ چې د پلان وزير علي احمد خرم د حکمتيار له لوري وژل سوی دئ. د حزب اسلامي افغانستان له امارت څخه ئـې استعفى وکړه او د گوند د نوي امير قاضي محمد امين له لوري د حزب د سکرتر جنرال په توگه ونومول سو. د ۱۹۷۸ز کال د دسمبر په مياشت کې د حزب اسلامي افغانستان د امير په توگه وټاکل سو او قاضي امين ئـې د مرستيال په توگه مقرر سو. د گلبدين پيروان د شوروي اتحاد او د افغانستان ددولت د ځواکونو پر ضد پوځي عملياتو کې ښکـېـل سول. په ۱۹۸۳ز کال کې ئـې علناً د پخواني پادشاه محمد ظاهر پر وړاندې خپل مخالفت اعلان کړ چې په افغان مقاومت کې برخه وانخلي. په ۱۹۸۱ز کال کې سعودي عربستان، په ۱۹۸۴ز کال کې خرطوم او په ۱۹۸۵ز کال کې ئـې د امريکا متحده ايالاتونو ته سفرونه کړي دي. وادهٔ ئـې کړی دئ ؛ دوه زامن او درې لونې لري.

### ډاکـټـر عبدالحکيم هلالي

خپل ليسانس ئـې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي او دکتورا ئـې له شوروي اتحاد څخه تر لاسه کړي ده. د پـښـتـو ټولنې غړی. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۷۹ز کال کې د علومو د اکاډيمی د ټولنيزو علومو د ديپارتمنت رئـيس. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو ده.

[1] -Ajez Afghan


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

## محمد حسین هلالي

د کابل د پولیتخنیک د انستیتیوت رئیس. ‹د غوایي له پاڅون وروسته› د فارمسي د دیپارتمنت رئیس.

## احسان الله هـېـر

د سید غلام احمدزي زوی په ۱۹۳۹ز کال کې د لغمان ولایت د چارباغ د پاچا په کلي کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د طب پوهنځی ئې لوستی دئ. شاعر او د ټولنیزو چارو په اړوند لیکوال. د نوموړي د ادبي کارونو یو ټولگه په ۱۹۶۷ز کال کې د پښتو ټولنې له پلوه خپره سوه.

## خلیفه محمد حسن هراتي

مشهور په ‹شیرین سخن›. د ملا محمد حسین زوی په ۱۸۹۵ز کال کې د هرات په باغ دشت کې زېږېدلی دئ. خپلې دودیزې زده کړې ئې په هرات کې تر لاسه کړې دي. شاعر.

## علي اصغر بشیر هروي

د اطلاعاتو او کلتور وزارت غړی. د یو شمېر آثارو لیکوال. د ترجمان د جریدې مسؤول مدیر.

**مایل هروي** : وگورئ : هروي

## جنرال سید حسن هـېـواد پال

په ۱۹۱۴ز کال کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی او په ۱۹۳۴ز کال کې له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۴۲ز کال پورې ئې په ترکیې کې په ‹ستاف آفیسر اکاډیمې›[2] کې نور لوړ تحصیلات تر لاسه کړل. په ۱۹۴۲ز کال کې ئې د جگړنې رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۴۳ز کال کې د حربي پوهنتون د درستیزوال[3] په توگه وگومارل سو. له ۱۹۴۸ – ۱۹۵۱ز کال پورې بریگیډیر/ ډگرمن/ برگت. په ۱۹۵۰ز کال کې د دفاع د وزارت د ښوونې او روزنې د دیپارتمنت مشر. په ۱۹۵۰ز کال کې تورن جنرال د کابل د قول اردو بولندوی. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۳ز کال پورې حربي پوهنتون کې وو. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د قوای مرکز بولندوی. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۲ز کال پورې ستر درستیز. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په ترکیې کې د افغان سفارت سفیر. په ۱۹۶۷ز کال کې هېواد ته راستون سو. په ۱۹۸۳ز کال کې له افغانستانه ووت او ترکیې ته لاړ.

## عبدالحمید هوتکي

د غلام خان زوی. د کانونو په وزارت کې د افغان الکترونیک کمپنی سرپرست مشر. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۴ز کال پورې ئې د اریزونا په دولتي پوهنتون کې تحصیل کړی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د ‹رمپارت›[4] په مجلې کې مقالات خپرول او په همدغو مقالو کې نوموړي په یوې کې ئې ادعا وکړه چې د افغان محصلینو اتحادیه له سي. آی. اې. سره اړیکي لري. مارکسیستانو دا مقاله د خپلو دښمنانو پر ضد په ځانگړې توگه د میوندوال پر ضد وکاروله.

---

[2] -Staff Officer Academy
[3] -Chief of Staff
[4] -Rampart Magazine


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

### عبدالولي حجت

د فرخار يو تاجيک دئ چي د ۱۹۲۵ز کال په شاوخواوو کي د تخار په ولايت کي زېږېدلی دئ. د کابل په اسلامي کالج کي ئـي تحصيل کړی دئ. په ۱۹۴۱ز کال کي زنداني سو. ويل کـېږي چي د ۱۹۶۰ز لسيزې په اوږدو کي د «نويو افکارو او غير معمولو کړوړو » له کبله تر بريدونو لاندې راغلی وو. زنداني سو او پيغمبر ته د سپکاوي په تور محکمه سو خو د حکومت د مداخلي له کبله بري الزمه سو. دا يو ملا وو چي تر ۱۹۷۲ز کال پوري ئـي په يوې خصوصـي مدرسي کي تدريس کاوهٔ. په ۱۹۷۸ز کال کي په کابل کي د عدليي په وزارت کي د هرات د ولايتي محکمي د رئـيس په توګه وګومارل سو. په ۱۹۷۹ز کال کي د انقلابي محکمي غړی. د اسلامي چارو د رياست عمومي رئـيس. د ۱۹۸۵ز کال د مارچ په مياشت کي د اسلامي چارو د وزير په توګه وګومارل سو.[5]

## نور بيا

**حميرا**

د پخواني پادشاه محـمد ظاهر مـېرمن، د احمد شاه او...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آريا د آرشيف: لينک

[5] - دلته ليکوال نـهٔ وايي چي موخه ئـي له اسلامي کالج څخه څه ده. آيا د شرعياتو پوهنځي دی که دارالعلوم. - ژ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په څير و لولـئ